اوونیزه
هفته نامه **معارف**

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسيس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۲۹۲) ماه رجب المرجب ۱۴۴٦ هـ ق. مطابق ماه جدی ۱۴۰۳ هـ ش.

**خپل اولاد علم ته هڅول، له هغوی سره واقعي مينه ده.**

# د پوهنې وزارت سرپرست په ننګرهار ولايت کې د افغان – ترک ښوونځيو څخه ليدنه وکړه

د پوهنې وزارت محترم سرپرست الحاج مولوي حبيب الله آغا ننګرهار ولايت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې، د يا ولايت د پوهنې رئيس محترم مولوي محمد شريف حليمي، په افغانستان کې د ترکيې سفير جنک اونال او مسئولينو په ملتيا د افغان - ترک ښوونځيو څخه ليدنه وکړه.

د پوهنې وزارت محترم سرپرست د افغان–ترک ښوونځيو له مسئولينو او ښوونکو څخه د پوهنيزو آسانتياوو برابرولو له امله مننه وکړه او له زده کوونکو يې وغوښتل چې په خپلو زده کړو کې زياتې هڅې وکړي.

د يادونې وړ ده، چې د پوهنې وزارت محترم سرپرست د ننګرهار له محترم والي حاجي ملا محمد نعيم آخند سره هم د دغه ولايت د ښوونيز وضعيت په اړه خبرې وکړې.


د ننګرهار ولايت رهبري د پوهنې وزارت له پلانونو د ملاتړ ترڅنګ، د دغه وزارت د ښوونيزو پروګرامونو د پلي کېدو په برخه کې مشرتابه ته داډ ورکړ.



## د يو خصوصي ښوونيز بنسټ له لوري "د اسلام مقدس دين او سيکولاريزم پېژندنه او مسئوليتونو ته ژمنتيا" تر سرليک لاندې سيمينار په لار واچول شو

په کابل ښار کې د يو خصوصي ښوونيز مرکز لخوا «د اسلام مقدس دين او سيکولاريزم پېژندنه او مسئوليتونو ته ژمنتيا» تر سرليک لاندې څېړنيز سيمينار، د پوهنې رياست مسئولينو، د تعليمي حوزو آمرينو، علماءکرامو او ځوانانو په حضور کې په لار واچول شو.

د



کابل ښار پوهنې رئيس محترم قاري عبدالباسط حقاني په ياد سيمينار کې د خپلو خبرو پر مهال وويل، چې له بهرنيو فرهنګونو سره د مبارزې يوازينۍ لار په اسلامي روحيې سره د هېواد بچيانو روزنه ده.

هغه زياته کړه: دا مسئوليت ښوونکو او د زده کوونکو والدينو ته ډېر متوجې دی، تر څو خپل راتلونکي نسلونه په بشپړې اسلامي او ملي روحيې سره وروزي.

همدارنګه نوموړي په ټولنه کې د خلکو د مسئوليت پر ارزښت او د ملي يووالي په چوکاټ کې د ملت او نظام د مسئوليتونو پر مشخص کولو او د سيکولار نظامونو د منفي اړخونو په اړه خبرې وکړې.

په غونډه کې يو شمېر پېژندل شويو علماءکرامو او منورو شخصيتونو هم د اړونده موضوع په هکله خبرې وکړې او د بهرنيانو د فرهنګي يرغل پر وړاندې يې پر قوي مبارزې ټينګار وکړ.

## لوګر کې د ښوونځيو زده کوونکو لپاره ۳ مياشتنی ژمنی کورس پرانيستل شو

د لوګر ولايت محمدآغې ولسوالۍ د يو تن علم پرور شخصيت په همکارۍ، د يادې ولسوالۍ په مغل خېل لېسه کې، د زده کوونکو تعليمي کچې لوړولو په موخه درې مياشتنی ژمنی کورس، د ۱۳۵ زره افغانيو په لګښت د ښوونکو، زده‌کوونکو او قومي مخورو په حضور کې پرانيستل شو.

پوهنې وزارت د هېواد بچيانو د تعليمي کچې لوړولو په برخه کې د هېوادوالو د ملاتړ او هڅو څخه قدرداني او مننه کوي.



## پکتيکا کې ۳ زره تنه بې وزله ماشومانو ته د وړيا زده کړو زمينه برابره شوه

د پکتيکا ولايت د پوهنې رياست او د دغه ولايت په مرکز او ۲۴ ولسواليو کې د خصوصي ښوونځيو او ښوونيزو کورسونو د مؤسسينو ترمنځ د يو هوکړه ليک له مخې، ۳ زرو تنو هغو معلولينو، يتيمو او بې وزله زده کوونکو ته چې د فيس د ورکړې توان نه لري؛ په ژمنيو کورسونو کې ورته د وړيا زده کړو زمينه برابره شوه.

د پکتيکا ولايت د پوهنې رئيس محترم مولوي عبدالوکيل خالد په دې موخه...

۲مخ



## د پوهنې وزارت محترم سرپرست د قرآن کريم د يو تن مخکښ حافظ په ستاينغونډه کې ګډون وکړ



د پوهنې وزارت محترم سرپرست الحاج مولوي حبيب الله آغا کندهار ولايت ته د خپل سفر په ترڅ کې، د ياد ولايت له پوهنې رئيس محترم الحاج مولوي فخرالدين نقشبندي په ملتيا، د قرآن کريم د يو تن مخکښ حافظ قاري عبدالغني چې د افغانستان د مدارسو په کچه يې د قرآن کريم د حسن قرائت سياليو کې لومړی مقام خپل کړی وو په ستاينغونډه کې ګډون وکړ.

قاري عبدالغني چې په اصل کې د غور ولايت اوسېدونکی دی اوسمهال د کندهار ښار په نهمه ناحيه کې اوسېږي، نوموړي د حسن قرائت په سياليو کې چې څه موده وړاندې د هېواد په کچه په لار اچول شوې وې لومړی مقام تر لاسه کړی وو.

په پام کې ده چې نوموړی حافظ د افغانستان په استازيتوب په قطر کې د ۵۳ هېوادونو ترمنځ د حسن قرائت په نړيوالو سياليو کې هم ګډون وکړي.

نوموړی حافظ د پوهنې وزارت د محترم سرپرست له لوري په نقدي ډاليو سره ووياړل شو.

## کندهار کې د ۳۰ بابه ښوونځيو د بيارغونې چارې پيل شوې

د پوهنې په برخه کې د يوې همکارۍ ادارې په مرسته د ۲٤ مېليونه او ۵۰۰ زره افغانيو په لګښت د کندهار ښار مرکز سربېره په ۵ ولسواليو کې د ۳۰ بابه ښوونځيو بيارغونې چارې، د يوې غونډې په ترڅ کې چې د پوهنې رياست مسئولينو، سيمه ييزو چارواکو او مشرانو پکې ګډون درلود، پيل شوې.

د ياد ولايت د پوهنې رياست مسئولينو د معلوماتو په اساس دغه پروژې چې ټاکل شوې په راتلونکو ۵ مياشتو کې بشپړې شي، پکې د درسي ټولګيو اساسي او معياري رغول او ترميمول شامل دي، چې په بشپړېدو سره به يې زرګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې خوندي او مناسب چاپېريال را منځ ته شي.

ښوونکو او زده کوونکو د يادې پروژې له پيلېدو خوښي څرګنده کړه او د پوهنيزو مرکزونو د ساتنې په برخه کې يې د پوهنې رياست مسئولينو ته ډاډ ورکړ.

## نشست کمیته بودجه وزارت معارف در رابطه به طرح پیشنهادی بودجه سال آینده

نشست ارزیابی و مشورتی کمیته طرح بودجه پیشنهادی وزارت معارف بر مبنای ساختار تشکیلاتی این وزارت، خریداری و تهیه اجناس و لوازم تخنیکی اداری و تدریسی در سال آینده ۱۴۰۴ هـ ش، مصارف اعاشه و اباته شاگردان شامل لیلیه ها، پروژه های ترمیماتی نهاد های اداری و تعلیمی و سایر برنامه ها وهزینه های احتمالی پیشبنی شده که تهیه و آماده گردیده است، دایر گردید.

در این نشست ضمن حضور معینان، معینیت های چهار گانه این وزارت، شماری زیادی از روئسای ادارات مرکزی، مشاورین ارشد مقام وزارت و کارشناسان امور مالی...

ص۲

## در این شماره:

صفحه ۲ — دروغگویی کودکان و نوجوانان و راه‌های پیشگیری از آن

۳ مخ — د کابل ښار نازو انا عالي لېسې زده کوونکو د فراغت مراسم ترسره شول

۴ مخ — باميانو کې څه د پاسه ۹،۵ مېليونه افغانيو په لګښت د ۳۱ بابه مدارسو او ښوونځيو ترميم چارې بشپړې شوې

سرلیکنه

# د هېواد ښوونیز نظام پیاوړتیا ته مو هوډ غښتلی دی

بسم الله الرحمن الرحیم
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ اْلعَالَمِیْنَ والصلوةُ وَالسَّلاَمُ عَلَی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ وَ عَلَی اٰلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِینَ.

د هېواد ښوونیز نظام چې لـه بـده مرغه د تېرو څو لسیزو ناخوالـو لـه امله سـخت زیانمن شـوی، د یـاد نظام پیاوړتیا د پوهنـې وزارت لـه سترو اهدافـو څخـه ده او پـه دې برخـه کـې شپه او ورځ هلـې ځلـې کـوي، ځکـه د اوسـني عصر اړتیـاوو تـه پـه کتـو سـره د یـوه هېـواد پرمختـګ د یـوه پیـاوړي پوهنیـز نظـام درلـودو پرتـه ناشـونی دی. د پوهنـې وزارت هڅـه کـوي چـې د هېـواد ښـوونیز نظـام د اسـلام د مقـدس دیـن د لارښـوونو سره سـم او افغانـي ارزښـتونو تـه پـه کتـو داسـې اعیـار او ځواکمـن کـړي چـې د اوسـني عصر د پرمختګونـو سـره اړخ ولګـوي. سـره لـه دې چـې پوهنـې وزارت پـه تېـرو دریـو کلونـو کـې پـه دې برخـه کـې د پام وړ لاسـته راوړنـې درلودلـې دي خـو لا هـم دا مـزل بشـپړ شـوی نـدی بلکـې لا ډېـر کار او هڅـو تـه اړتیـا لیـدل کېـږي.

پوهنـې وزارت، د پوهنـې پـه برخـه کـې ټولـو اساسـي سـتنو تـه چـې د بـا کیفیتـه او پیـاوړي ښـوونیز نظـام چتـر پـرې اسـتوار دی، سـتونزې را سـپړلي او د حـل پـه موخـه یـې ورته لازم اقدامـات تـر لاس لانـدې نیولـي او د دې اساسـي برخـو د پیـاوړي کولـو لپـاره یـې تـر دې مهالـه ډېـر کار کـړی. هغـه پروګرامونـه چـې د معـارف اساسـي بنسـټ جـوړوي او پـه تېـرو کلونـو کـې ورتـه پاملرنـه نـده شـوې او یـا هـم هغسـې چـې لازم وو کار نـدی شـوی، اوس ورتـه پـه اساسـي توګـه د بنیـادي حـل هڅـې روانـې دي، د پوهنـې وزارت د رهبـري ټولـه هڅـه دا ده چـې د ښـوونکو لپـاره مناسـب روزنیـز پروګرامونـه جـوړ او د هغـوی مهارتونه لوړ کړي، د ښـوونې او روزنـې مـوادو تـه د زده کوونکـو لاسرسـی، لکـه: پـه درسـي کتابونـو، ښـوونیزو وسـایلو، ټکنالـوژۍ، او نـورو تعلیمـي منابعـو د ښـوونځیو تجهیـزول، د معیـاري او کیفیتـي تعلیـم لپـاره څارنـه او ارزونـه، د ټکنالـوژۍ څخـه ګټـه اخیسـتنه چـې دا هـم پـه ښـوونیز نظـام کـې یـو لـه اساسـي نوښـتونو څخـه شـمېرل کېـږي. د ټکنالـوژۍ پـه مټ ښـوونیز منابعو تـه لاسرسـی چـې پـه دې سـره زده کوونکـي کـولای شـي علمـي موضوعاتـو تـه پـه آسـانه توګـه لاسرسـی و مومـي، زده کوونکـو لپـاره د ښـه تعلیمـي چاپېریـال رامنځتـه کـول هـم د پوهنـې وزارت لـه اساسـي موخـو څخـه دی ځکـه ښـوونځي بایـد د زده کوونکـو لپـاره خونـدي، مناسـب او هڅوونکـي چاپېریـال ولـري. دا کېـدای شـي د ماشـومانو روانـي او جسـماني روغتیـا تـه ګټـه ورسـوي او د ښـوونې بهیـر پـه برخـه کـې لـه هغـوی سـره مرسـته وکـړي، د بېلابېلـو تبلیغاتـي پروګرامونـو او د ټولنیـزو رسـنیو پـه وسـیله د ماشـومانو پـه روزنـه کـې د پوهنـې وزارت سـره د والدینـو مرسـته او همـکاري.

د پوهنـې وزارت دې اصـل تـه پـه کتـو چـې پـه ښـوونیزه برخـه کـې د والدینـو برخـه اخیسـتنه بایـد پیـاوړې شـي او د هغـوی د همـکارۍ راجلبـول د ښـوونیز نظـام پـه پیاوړتیـا کـې اغیزنـاک رول لوبـوي چـې پـدې برخـه کـې تـر ډېـره ښـه پروګرامونـه پلـي شـوي او د لا پراختیـا لپـاره یـې پلانونـه ترتیـب او د پلـي کېـدو پـه حـال کـې دي.

د پوهنـې وزارت رهبـري ټولـو پورتـه یـاد شـویو برخـو تـه د خپلـو امکاناتـو سره سـم رسـېدنه کـړې او کـوي یـې او د خپلـو اوږد مهالـه پلانونـو پـه لومړیتـوب کـې یـې ورتـه ځـای ورکـړی، د پوهنـې وزارت د رهبـرۍ هڅـه دا ده چـې پـه راتلونکـي کـې د غښـتلي ښـوونیز نظـام پـه مټ د هېـواد بچیـان پـه اسـلامي او ملـي روحیـه داسـې وروزي چـې پـه راتلونکـي کـې د هېـواد د پرمختـګ او هېوادوالـو تـه د ښـه خدمـت جوګـه شـي.

اوس چـې للـه الحمـد پـه ټـول افغانسـتان کـې د سـولې لمـن غوړېدلـې او تـر بـل هـر وخـت د تعلیـم او تحصیـل لپـاره فرصـت پـه لاس راغلـی پـه ټولیـزه توګـه، د هېـواد د ښـوونیز نظـام پیاوړتیـا د بېلابېلـو برخـه والـو لکـه: ښـوونکي، کورنـۍ، او هېوادوالـو همـکارۍ تـه اړتیـا لـري ترڅـو یـو عصـري، معیـاري او تعلیمـي سیسـتم جـوړ شـي او د هېـواد بچیـان پـه اسـلامي روحیـه وروزل شـي او د دوی پـه مټ مـو هېـواد د نـړۍ د پرمـخ تللـو هېوادونـو پـه کتـار کـې ودریـږي، پـه دې برخـه کـې ټولـو هېوادوالـو تـه ښـایي چـې لـه پوهنـې وزارت سـره د علـم او پوهـې پـه وده کـې اوږه پـه اوږه ودریـږي تـر څـو د یـوه پیـاوړي صـف پـه توګـه د بریـا تـر پولـو ورسـېږو.

# دروغ‌گویی کودکان و نوجوانان و راه های پیش‌گیری از آن

همه پـدران و مـادران دوسـت دارنـد فرزندانـی داشـته باشـند کـه دروغگـوی نباشـند، صـادق باشـند و گاهـی از دروغ گفتـن فرزنـدان شـان نگـران می‌شـوند. توجـه داشـته باشـید کـه اگـر فرزندتـان زیـر چهارسـال اسـت از دروغ گفتـن او نگـران نباشـید و بنـا بـه دلایلـی ایـن گونـه صحبـت می‌کنـد کـه کامـلاً طبیعـی اسـت و جـای هیـچ گونـه نگرانـی نیسـت.

دلایلـی کـه اطفـال زیـر چهـار سـال دروغ می‌گوینـد عبـارت هسـتند از:

الـف: تخیـلات قـوی آن‌هـا: چـرا کـه کـودکان گاهـی حرف‌هـای غیـر واقعـی می‌زننـد و تخیـلات بسـیار قـوی دارنـد، از جملـه ایـن کـه شـاید مواجـه شـده باشـید بـا ایـن مـوارد کـه کـودک شـما عنـوان می‌کنـد «پرنـده آمـد و بـه مـن گفـت مـن آب می‌خواهـم» و یـا اینکـه «مـن بـه پرنـده سـوار شـدم رفتـم بـه آسـمان» و نمونـه هـای دیگـر.

در بـاره تخیـلات قـوی کـودکان بایـد گفـت کـه آن‌هـا بـه تمـام حیوانـات و اشـیا علاقـه نشـان می‌دهنـد و حتـی بـا آن‌هـا صحبـت می‌کننـد، کـه در ایـن نـوع برخـورد جـای نگرانـی نیسـت.

ب: بـه دلیـل اینکـه دایـره فهـم شـان بسـیار محـدود اسـت از کلمـات غیـر واقعـی اسـتفاده می‌کننـد.

ایـن مـورد هـم بـه مـرور بـا توجـه بـه افزایـش سـن فرزنـد حـل خواهـد شـد. دروغگویـی در سـنین چهـار تـا شـش سـال ممکـن اسـت بـا توجـه بـه اینکـه تقریبـاً دایـره لغـات افزایـش یافتـه علتهـای متفاوتـی داشـته باشـد.

اول اینکـه ممکـن اسـت بـه خاطـر رسـیدن بـه خواسـته هایشـان باشـد، والدیـن بایـد توجـه داشـته باشـند کـه نیازهـای معقـول فرزندان‌شـان را اجابـت کننـد.

دوم اینکـه گاهـی اطفـال کاری را کـه دوسـت دارنـد انجـام دهنـد، پـدر و مـادر مخالـف انجـام آن هسـتند، آن‌هـا بـه ناچـار مجبـور بـه دروغ گفتـن می‌شـوند کـه بتواننـد بـه خواسـته خـود برسـند. والدیـن دقـت کننـد، اگـر خواسـته کـودک صدمـه بـه او نمـی زنـد ممانعـت نکنیـد.

اگـر فرزندتـان کار اشـتباهی انجـام داد ایـن اطمینـان قلبـی را بـه آن‌هـا بدهیـد کـه از جانـب شـما احسـاس امنیـت کنـد. در غیـر ایـن صـورت در آینـده عواقـب بـدی گریبـان گیـر شـما بـه عنـوان پـدر و مـادر خواهـد شـد. پـس نسـبت بـه اشـتباهات فرزنـدان تـان کمـی نرمتـر رفتـار نماییـد و گاهـی هـم چشـم پوشـی کنیـد.

فـرار از کاری کـه علاقـهٔ بـه انجـام آن کار ندارنـد:



خلاصـه کلام ایـن کـه اطفـال را مجبـور بـه انجـام کارهایـی کـه دوسـت ندارنـد تـا حـد امکان نکنیـد.

از اطفـال در ایـن سـن بسـیار سـوال پرسـیده نشـود:

بـه طـور مثـال، مـادری کـه برایـش مشـخص شـده فرزنـد چهـار تـا شـش سـاله اش کار اشـتباه کـرده و علائـم آن هـم آشـکار اسـت مجـدداً فرزنـد را سـوال پیـچ نکنـد. بـه راحتـی بگوییـد مـن متوجـه حرکـت اشـتباه تـو شـدم سـعی کـن دفعـه بعـدی بـدون اجـازه دسـت بـه لوازمـی کـه بـرای شـما نیسـت نزنیـد. ایـن حـرف بهتـر از ایـن اسـت کـه شـما کـودک را سـوال پیـچ کنیـد کـه بـه خواسـته خـود کـه همانـا اعتـراف گرفتـن اسـت برسـید.

بـا افزایـش سـن فرزنـدان و وارد شـدن بـه سـن مکتـب دروغگویـی کمـی نگـران کننـده می‌شـود و بایـد بـه حـل ایـن مسـئله بـه صـورت جـدی از جانـب پـدر و مـادر پرداختـه شـود. بـا توجـه بـه بحـث مهـم تربیـت و الگـو پذیـری مسـتقیم فرزنـدان از پـدر و مـادر می‌تـوان بـه ایـن نکتـه اشـاره کـرد کـه پـدر و مـادر مهمتریـن و اصلـی تریـن الگـوی تربیتـی بـی واسـطه بـرای فرزنـدان شـان هسـتند. چـرا کـه کلام غیـر صادقانـه برگفتـار فرزنـدان تأثیـر فراوانـی دارد. فرزنـدان ایـن رفتـار را از آن‌هـا الگـو برداری می کننـد .

والدیـن عزیـز توجـه داشـته باشـید، وقتـی پـدر یـا مـادر بـه راحتـی و علنـی شـروع بـه دروغگویـی می‌کننـد، توقـع گفتـار صادقانـه از فرزندشـان نبایـد داشـته باشـند، ایـن یـک اصـل اسـت و اسـتثنایی وجـود نـدارد.

و گاهـی در ایـن سـنین متأسـفانه والدیـن در قبـال خطـای عمـدی یـا غیـر عمـدی از فرزندشـان بـه حالـت غضبنـاک و برخـورد قهـری، شـتاب زده و تنبیهـی انجـام می‌دهنـد. و فرزنـدان بـرای مصؤنیـت از مجـازات توسـط والدیـن متوسـل بـه دروغگویـی می‌شـوند و احسـاس امنیـت بعـد از خطایشـان، ندارنـد.

و یـا گاهـی اطفـال دروغ می‌گوینـد کـه نـزد پـدر و مادرشـان عزیـز شـوند. کاری نکـرده را می‌گوینـد کـه انجـام داده انـد. فقـط بـرای اینکـه حـس خوشـایندی و رضایـت پـدر و مـادر را بـرای لحظـه یـی بدسـت آوردنـد.

گاهـی دیـده شـده برخـی از پـدر و مادرهـای کـه دارای چنـد فرزنـد هسـتند یکـی از فرزنـدان را دایمـاً تحقیـر می‌کننـد. بـه طـور مثـال بـه فرزنـد خـود می‌گوینـد: تـو توانایـی انجـام هیـچ کاری را نـداری، و اینگونـه فرزنـدان بـرای اثبـات بـزرگ نمایـی خـود مجبـور بـه دروغگویـی میشـوند، حتـی گاهـی لاف می‌زننـد کـه مـورد تأییـد والدیـن خـود باشـند.

**هیـچ گاه بـه فرزندتـان تهمـت دروغگویـی نزنیـد:**

برخـی از والدیـن توقـع بیـش از حـد از فرزندشـان دارنـد بـه طـور مثـال کاری را بـه آنهـا محـول کردنـد و توقـع دارنـد کـه فرزندشـان بـه بهتریـن نحـوه ممکـن آن کار را انجـام و تحویـل دهـد کـه ایـن خـود مسـبب دروغگویـی در فرزنـد شـما می‌شـود. توجـه داشـته باشـید، توقـع انجـام کار از فرزنـدان بـا توجـه بـه سـن و تجربـه آن‌هـا باشـد، نـی بـا اولویـت و حـد انتظـار شـما کـه مطمئنـاً بسـیار بالاتـر از توانایـی فرزندتـان اسـت.

دروغگویـی ماننـد بسـیاری از امـراض بایـد درمـان شـود:

بـرای درمـان دروغگویـی صبـر و شـکیبایی والدیـن، همدلـی آن‌هـا، وقـت گذاشـتن بـرای فرزنـدان بـه صـورت خصوصـی لازم اسـت.

والدیـن بایـد فوایـد صداقـت و عواقـب دروغگویـی در خانـواده، در جمـع دوسـتان و در نهایـت جامعـه را بـرای کـودکان بـه زبـان سـاده تشـریح کننـد. وقتـی بـه فرزنـدان اجـازه بیـان احساسـات داده شـود طبیعتـاً ارتبـاط صمیمانه‌یـی بـا حفـظ مقـام پـدر یـا مـادر بـودن، بیـن والدیـن و فرزنـدان صـورت می‌پذیـرد و نتیجـه آن ایـن اسـت کـه حـل بسـیاری از مسـائل راحـت تـر خواهـد بـود.

همـه یـی مـا میدانیـم دروغگویـی یکـی از بدتریـن اخـلاق هـر انسـان میتوانـد باشـد، دروغگویـی منشـأ فسـاد در همـه گناهـان اسـت.

انسـان دروغگـوی بـه مـرور زمـان محبوبیـت خـود را از دسـت می‌دهـد و تنهـا خواهـد شـد.

انسـان دروغگـوی قابـل اعتمـاد نیسـت و شایسـته دوسـتی و صمیمـت نیسـت. اگـر ایـن اخـلاق ناپسـند از کودکـی رفـع نشـود در کـودک نهادینـه شـده و در آینـده دچـار مشـکلات زیـاد خواهـد شـد، کـه اکثریـت آن‌هـا غیـر قابـل جبـران خواهـد بـود.

**نشست کمیته بودجه وزارت معارف در...**

نیز اشتراک داشتند.

مسـئولین در ایـن نشسـت برعـلاوه از بحـث در رابطـه بـه چگونگـی بودجـه سـال ۱۴۰۴هــ ش ، مصـارف، چالـش هـا و نقـاط برجسـته تطبیـق بودجـه سـال گذشـته نیز مـورد ارزیابـی قـرار داده شـد.

مسـئولین می‌گوینـد در نظـر دارنـد تـا ایـن طـرح بـا تمـام اسـتدلال هـای کار شناسـانه و مسـلکی نخسـت بـه مقـام عالـی ریاسـت الـوزراء محول شـده و بعـد از منظـوری آن اداره، بـه مقـام عالـی رهبـری امـارت اسـلامی افغانسـتان پیشـکش خواهـد شـد کـه بعـد ازلـزوم دیـد آن مقـام عالیـه، غـرض تائیـدی بـه وزارت مالیـه ارسـال مـی گـردد.

**پکتیکا کې ۳ زره تنه بې وزلو ماشومانو ته د ...**

جـوړې شـوې غونـډې تـه د وینـا پـر مهـال وویـل: پوهنـې وزارت او د خصوصـي تعلیمـي مرکزونـو مؤسسـین د هېـواد د راتلونکـو نسـلونو ښـوونې او روزنـې پـه برخـه کـې اسـلامي او ملـي مسـئولیت لـري، تـر څـو د هیـواد بچیانـو تـه د ښـوونې او روزنـې زمینـه برابـره کـړي.

لـه بلـې خـوا د خصوصـي ښـوونځیو او کورسـونو مؤسسـینو او اسـتازو ژمنـه وکـړه چـې د بـې وزلـو ماشـومانو د زده کـړې پـه برخـه کـې بـه د پوهنـې لـه ریاسـت سـره هراړخیـزه همـکاري کـوي.

**آغاز سیمینار میتودیکی جهت ارتقای...**

معینیـت بـر تـداوم ایـن چنیـن نشسـت هـای آموزشـی و سـیمینار هـا تأکیـد نمـوده و از اشـتراک کننـدگان خواسـت تـا اسـتفاده نهایـت مفیـد از ایـن سـیمینار بـرده و آن را در تعلیـم اولاد وطـن بـکار برنـد.

**بدخشان ولایت د پوهنې وزارت د څارنې او...**

خپلې ټولې هڅې کوي.

همدارنګـه نومـوړي ښـوونیزو موخـو تـه د رسـېدلو پـه برخـه کـې د خلکـو او ښـوونکو پـر ملاتـړ ټینـګار وکـړ او لـه پوهنـې وزارت څخـه یـې وغوښـتل چـې د مسـلکي ښـوونکو د کمښـت، د ښـوونیزو مرکزونـو د نشـتوالي پـه ګـډون شـته سـتونزو تـه لازیاتـه پاملرنـه وکـړي.

پـه پـای کـې د پوهنـې وزارت پـلاوي ډاډ ورکـړ چـې د دې ارزونـې پایلـې بـه د وزارت مشـرتابه تـه وړانـدې او د شـته سـتونزو د حـل پـه برخـه کـې بـه هڅـه کـوي.

## لنډ خبرونه

### بدخشان

د بدخشان کشم ولسوالۍ د نوآباد ګندم قل لیسي احاطوي دېوال، د عبد الله ابن عباس دارالعلوم او بي بي اسماء لېسې ترمیم چارې، د پوهنې وزارت له بودجې څخه د ۲ مېلیونه افغانیو په لګښت بشپړې شوې. د بدخشان پوهنې رئیس الحاج مولوي نصرت الله فیضاني وویل: د یادو پروژو تطبیق د پوهنیز حالت لاښه والي او د زده کوونکو لپاره د مناسب تعلیمي چاپېریال برابرولو کې یو مهم ګام دی او تېنګار یې وکړ چې د پوهنې ریاست ژمن دی، تر څو له شته امکاناتو څخه په استفادې د زده کړو ښه شرایط برابر کړي.

### لغمان

سیمینار ۸ روزه جهت ارتقای ظرفیت های مسلکی برای ۶۲ تن از آموزگاران ولایت لغمان به همکاری یک نهاد حامی معارف با حضور داشت مسئولین ریاست معارف و معلمین در شهر مهترلام مرکز آن ولایت آغاز گردید.

محترم مولوی شاه جهان ساجد رئیس معارف ولایت لغمان در محفل آغازین این سیمینار بر ارزش هم چو نشست های علمی و میتودیک صحبت نموده و از اشتراک کنندگان خواست تا از این گونه فرصت ها استفاده مفید نموده و در خدمت اولاد وطن باشند.

### نورستان

د پوهنې په برخه کې د یوې ملاتړې اداري په همکارۍ، د نورستان ولایت د ۳۰۱ تنو ښوونکو د مسلکي ورتیاوو لوړولو شپږ ورځنی سیمینار، د یاد ولایت په مرکز پارون ښار کې د پوهنې ریاست مسئولینو او ښوونکو په حضور کې پیل شو.

د نورستان پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي تاج محمد مطمئن د دغه سیمینار د پرانیستې په مراسمو کې د علمي او میتودیکي ناستو پر ارزښت خبرې وکړې او له ګډون والو یې وغوښتل چې د استادانو له علمي پوهې او تجربو څخه ګټه پورته کړي، ترڅو د هېواد بچیانو ته د خدمت جوګه شي.

### کندز

ورکشاپ چهار روزه زیر عنوان « برنامه آموزشی و رهنمایی تنویر افکار برای اعضای علمی » برای ۵۴۸ تن از اعضای علمی تربیه معلم و انکشاف مسلکی ریاست های معارف ولایات بدخشان, تخار, بغلان و کندز در ریاست معارف ولایت کندز آغاز گردید.

این ورکشاپ به هدف تشریح لایحه وظایف و مسئولیت های اعضای علمی انکشاف مسلکی معلمین ولایت های مذکور برگزار گردیده تا اشتراک کننده گان به مسئولیت ها و صلاحیت‌های خویش کاملاً آشنا شده و آن را در ساحه وظیفوی خویش عملی کنند.

### لوګر

د لوګر ولایت مرکز پل علم ښار اړوند د قلعه بشیر په کلي کې د یو تن علم دوسته شخص لخوا د ۷۵۰ زره افغانیو په ارزښت ۳ جریبه ځمکه د یوې مدرسې جوړولو په موخه وقف وشوه.

د لوګر پوهنې ریاست مسئولین وایي، د خلکو او ملي سوداګرو په مالي مرسته به ډېر ژر د دغې مدرسې ودانیزې چارې پیل شي.

### فراه

په بالابلوک ولسوالۍ کې د فضیلت پګړیو له ترلاسه کېدو مخکې د یو شمېر حافظانو تعلیمي کچې ارزونې په موخه، د پوهنې ریاست له خوا آزموینه واخیستل شوه.

## افتتاح تعمیرجدید آمریت معارف ولسوالی گیلان ولایت غزنی

کار ساخت تعمیر جدید اداری آمریت معارف ولسوالی گیلان ولایت غزنی که چندی پیش به هزینه یک میلیون افغانی آغاز گردیده بود پس از تکمیل شدن کار ساختمانی آن در حضور مسئولین معارف، استادان و مدیران مکاتب و محاسن سفیدان آن ولسوالی رسما افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

به گفته مسؤلین ریاست معارف ولایت غزنی این تعمیر که دارای چهار اتاق اداری و یک تالار جلسات می باشد به کمک مالی باشنده گان آن ولسوالی ساخته شده است.

رهبری وزارت معارف از حمایت های مادی و معنوی مردم به خصوص باشنده گان معارف دوست ولایت غزنی اظهار قدردانی می کند.

## بامیان ولایت کې د یو ښوونځي ودانۍ دجوړېدو بنسټ ډېره کېښودل شوه

د بامیان ولایت ورس ولسوالۍ اړوند د تنور سراب په کلي کې د یو باب لومړني ښوونځي د ودانۍ د جوړېدو د بنسټ ډېره، د بامیان ولایت د پوهنې رئیس محترم قاري عنایت الله سهار له خوا د سیمه ییزو ادارو د یو شمېر مسئولینو په ملتیا دیوې غونډې په ترڅ کې کېښودل شوه.

د بامیان ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي، یاد ښوونځی د سیمې د خلکو په مالي مرسته په ۲ جریبه ځمکه کې د یو نیم مېلیون افغانیو په لګښت جوړېږي، چې ۶ درسي ټولګي، ۲ اداري خونې او نور ضروري ملحقات به ولري.

په دې غونډه کې د پوهنې رئیس د سیمې اوسېدونکو ته ډاډ ورکړ چې د پوهنې وزارت ژمن دی، تر څو د هېواد د ماشومانو لپاره سالم تعلیمي چاپېریال را منځ ته کړي.

نوموړي زیاته کړه: د باکیفیته زده کړو لپاره باید ولس هم فعاله ونډه ولري او د پوهنې په برخه کې خپل مسئولیت اداء کړي.

بل خوا یو شمېر ویناوالو په خپلو خبرو کې د هېواد له پوهنیز نظام څخه خپل بشپړ ملاتړ اعلان کړ. د پوهنې وزارت رهبري د پوهنې په برخه کې د خلکو له مرستو مننه کوي.

## بلخ کې د څو بابه ښوونځیو د بیا رغونې چارې بشپړې شوې



د بلخ ولایت پوهنې ریاست مسئولین وایې چې د پوهنې په برخه کې د یو ملاتړي بنسټ په مرسته د ۵۰۰ زره افغانیو په لګښت، د یاد ولایت د مرکز او او نهرشاهي ولسوالۍ اړوند د کویمار، قلعه قل، فاطمة الزهراء رضی‌الله عنها، علي آباد او راه معرفت لېسو کې د زده کوونکو لپاره د آسانتیاوو رامنځته کولو په موخه، د یو شمېر رغنیزو پروژو چارې چې پکې د اړینو ملحقاتو جوړول او ښښاک پاکو اوبو څاګانو کیندل شامل وو، بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

## توزیع ٦۰۰ پایه میز و چوکی برای مکاتب ولایت سرپل



مسئولان در ریاست معارف ولایت سرپل از آغاز توزیع ۳۰۰ پایه میز و ۳۰۰ پایه چوکی

به منظورفراهم آوری سهولت های درسی برای شاگردان مکاتب در این ولایت خبر می‌دهند.

به گفته محترم مولوی محمد رحمانی رئیس معارف ولایت سرپل این تجهیزات با نظارت مستقیم تیم های مدیرتی و نظارتی آن ریاست به مناطق مختلف ولایت سرپل فرستاده شده و با اولویت به مکاتبی توزیع می گردد که با مشکلات بیشتری مواجه هستند.

او افزود: وزارت معارف متعهد به بهبود شرایط آموزشی در سرتاسر کشور به ویژه در مناطق کمتر توسعه یافته بوده و در راستای کاهش مشکلات نظام آموزشی کشور می کوشد.

## سنگ تهداب ساخت چهار باب مکتب در ولایت پکتیکا گذاشته شد

سنگ تهداب ساخت تعمیرهای چهار باب مکتب در ولسوالی های سرحدی ورمی و تروی از مربوطات ولایت پکتیکا به هزینه مجموعی ۲۴ میلیون افغانی از بودیجه ملی گذاشته شد.

در این مراسم محترم مولوی عبدالخالق عابد والی، محترم مولوی عبدالوکیل خالد رئیس و منسوبین ریاست معارف، شماری از علماء کرام و سایر مقامات محلی آن ولایت نیز حاضر بودند.

مسئولین در مراسم تهداب گذاری ها که به صورت جداگانه انجام یافت، ضمن صحبت پیرامون اهمیت ساخت این تأسیسات، از باشنده گان محل خواستند تا در شکوفایی نظام معارف و حمایت از پلان ها و برنامه های وزارت معارف حمایت های همه جانبه نموده با این وزارت همکار باشند.

سپس علماء کرام و بزرگان قومی نیز در سخنرانی های شان ضمن اظهار خرسندی از اعمار این مراکز تعلیمی، از وزارت معارف جهت رسیدگی به مشکلات شاگردانی که در ولایات سرحدی مصروف تعلیم هستند قدردانی نموده، وعده همکاری را با وزارت معارف در جهت حفظ و مراقبت از مراکز تعلیمی سپردند.

## د کابل ښار نازو انا عالي لېسې زده کوونکو د فراغت مراسم ترسره شول

د کابل ښار ۱۶مې ناحیې اړوند د نازو انا عالي لېسې زده کوونکو د فراغت مراسم، د کابل ښار پوهنې رئیس محترم قاري عبدالباسط حقاني، د ۱۶ مې ناحیې آمر محترم مولوي لعل محمد احمدي، مسئولینو، ښوونکو، زده کوونکو او والدینو په حضور کې ترسره شول.

غونډه د الهي کلام د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه، ورپسې د کابل ښار د ۱۶مې ناحیې آمر مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه او د یادې ناحیې د آمریت د ښوونیزو کړنو په اړه یې ګډون والو ته معلومات وړاندې کړل.

همدارنګه د کابل ښار پوهنې رئیس هم د نازو انا عالي لېسې زده کوونکو ته د فراغت مبارکي وویله او څرګنده یې کړه: تاسو د افغانستان د راتلونکي معماران او جوړونکي یاست او دغه فراغت د هېواد او خلکو په وړاندې ستاسو مسئولیتونه لاپسې زیاتوي.

نوموړي د زده کوونکو له والدینو هم وغوښتل، چې د زده کړو په برخه کې د خپلو ماشومانو ملاتړ او مرسته وکړي.

هغه زیاته کړه: د افغانستان اسلامي امارت د پوهنې وزارت په ټول هېواد کې د پوهنې متوازنې پراختیا او پیاوړتیا ته ژمن دی او په دې برخه کې شپه ورځ هلې ځلې کوي.

دغه راز یو تن فارغ زده کوونکي د نورو په استازیتوب له مسئولینو او استاذانو څخه مننه وکړه، چې په پوره صداقت او زیار سره یې زده کوونکو ته زده کړې ورکړې دي.


هغه ژمنه وکړه چې د لا مسلکي او تخصصي پوهې په ترلاسه کولو سره به د خلکو په خدمت او د هېواد پرمختګ برخه کې خپل دیني او ملي مسئولیت اداء کړي.

## برگزاری سیمینار میتودیک برای ۱۸۵ تن معلمین در ولایت هلمند

سیمینار ۶ روزه میتودیک و مسلکی زیر عنوان «تدریس مفید» به هدف بلند بردن سطحی اگاهی مسلکی برای ۱۸۵ تن از معلمین ولایت هلمند به همکاری یک نهاد حامی معارف با حضورداشت مسئولین ریاست معارف و شاملان سیمینار در آن ولایت برگزار گردید.

مسئولین معارف ولایت هلمند برگزاری این چنین سیمینار ها را مفید و با ارزش دانسته و از معلمین اشتراک کننده خواستند نهایت استفاده را از اینگونه فرصت ها داشته باشند تا بتوانند در راستای تقویه سطح تعلیمی شاگردان نقش مهمی را ایفا نمایند.

قابل یادآوریست که قبلا نیز این گونه سیمینار ها برای معلمین و مسئولین معارف ولسوالی های ولایت هلمند راه اندازی شده بود.



Newspaper
# Marif
Weekly

**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
معراج «زماني»
محمد نسيم «عياذ»
**مسئول مدیر:** سعيد «جلال»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادريس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

**ډیزاینر :** محمد قسيم «يعقوبي»
**تیراژ :** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت
**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکي شمېره:** ۰۷۲۸٤۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 292 /2025

# بامیانو کې څه د پاسه ۹،۵ مېلیونه افغانیو په لګښت د ۳۱ بابه مدارسو او ښوونځیو ترمیم چارې بشپړې شوې



د باميانو ولايت پوهنې رئيس قاري عنايت الله سهار د معلوماتو له مخې په دې وروستيو کې د باميانو په مرکز او ولسواليو کې د پوهنې رياست ودانۍ او دارالعلوم په ګډون د ۲۹ بابه مدارسو او ښوونځيو ترميم چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

نوموړي زياته کړه: د يادو ښوونيزو مرکزونو پر بيارغونه ټولټال ۹مېليونه ۶۸۱ زره ۹۹۸.۳ افغانۍ لګښت راغلی، چې د پوهنې وزارت له بودجې څخه تمويل شوې دي.

د يادونې وړ ده، چې د همدغو تعليمي بنسټونو په فعالېدو سره ۱۹۱ زره ۷۷ تنو زده کوونکو ته د زده کړو خوندي چاپېريال برابر شوی.

مسئولينو په خپلو خبرو کې له زده کوونکو وغوښتل، چې د خپلو مدارسو او ښوونځيو ساتنې او خونديتوب ته جدي پاملرنه وکړئ.

## آغاز سیمینار میتودیکی جهت ارتقای ظرفیت اعضای انکشاف مسلکی مدرسین

سیمینار ۶ روزه مسلکی و میتودیکی به هدف ارتقای ظرفیت اعضای انکشاف مسلکی مدرسین ولایت کابل از سوی معینیت تعلیمات اسلامی وزارت معارف با حضور معین تعلیمات اسلامی، رئیس دارالعلوم ها، شماری از روئسای مرکزی و کارمندان معارف برگزار شد.


امارت اسلامی افغانستان
وزارت معارف
معینیت تعلیمات اسلامی
ریاست دارالعلوم ها
آمریت انکشاف مسلکي مدرسین
د مسلکي پراختیا غړو او مدرسینو د ظرفیتونو د لوړتیا
سیمینار
سیمینار ارتقاء ظرفیت اعضای انکشاف مسلکی مدرسین

در آغاز سیمینار محترم الحاج مولوی عبدالقدوس قدوسی رئیس عمومی دارالعلوم ها معلومات همه جانبه در مورد سیمینار ارائه نموده و افزود: هدف اساسی از راه اندازی این سیمینار ارتقای ظرفیت های مسلکی و میتود های درسی مدرسین و بالا بردن کیفیت تعلیمی در مدارس می باشد.

سپس محترم الحاج مولوی کرامت الله آخندزاده معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف در سخنان شان ضمن ارائه معلومات مفصل در مورد ایجاد کارگاه های تدریسی و دستاوردهای آن...

ص ۲

## توزیع هزاران بسته لوازم صحی برای معلمین و متعلمین مکاتب ولایت پکتیکا

به همکاری یک نهاد حامی معارف به تعداد ۳۸۸۸ بسته لوازم صحی برای استادان و شاگردان مکاتب ۵ ولسوالی در ولایت پکتیکا توزیع گردید.

محترم مولوی عبدالوکیل خالد رئیس معارف ولایت پکتیکا ضمن قدردانی از نهاد مساعدت کننده گفت: این بسته های صحی که شامل جان‌پاک، شامپو، صابون های دست و لباس شویی، کریم دندان و غیره می باشند به هدف حفظ صحت و سلامتی شاگردان، به آن ها توزیع شد.

## په غزني کې د ۱۷بابه ښوونځیو بیارغونې چارې بشپړې شوې

د غزني ولايت په ۶ ولسواليو کې د ۱۷ بابه ښوونځيو بيارغونې او ترميم چارې چې څه موده وړاندې د پوهنې وزارت له بودجې څخه د ۱۴ مېليونه افغانيو په لګښت پيل شوې وې، بشپړې او د پوهنې رئيس محترم الحاج مولوي مير نصير احمد حسيني، آمرينو او علماءکرانو په حضور کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

په هغه غونډه کې چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه، د غزني پوهنې رئيس په خپلو خبرو کې ښوونه او روزنه د يوه هېواد د پرمختګ يو اساسي عنصر وباله او له خلکو يې وغوښتل چې د مدارسو او ښوونځيو فعاله ساتلو په برخه کې دې خپل ديني او ملي مسئوليت ادا کړي.



## په ارزګان کې د مدارسو طالب العلمانو ترمنځ د قرآن کریم د حسن قرائت سیالۍ ترسره شوې



د نجم القرآن تر نامه لاندې د قرآن کريم د حفظ او حسن قرائت سيالۍ چې د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معينيت له خوا د هېواد په سويلي ولايتونو کې په لار اچول شوې وې، يادې سيالۍ په ارزګان ولايت کې د قرآن کريم د ۱۲ تنو حافظانو تر منځ تر سره شوې.

يادې سيالۍ د زابل ولايت د والي محترم الحاج مولوي عنايت الله شجاع، پوهنې رئيس محترم الحاج مولوي شمس الله آخندزاده کامران، يو شمېر مسئولينو، د علماء کرامو شورا غړو، استاذانو او طلابو کرامو په حضور کې په پوره روښتيا سره د حفظ او حسن قرائت په برخه کې ترسره شوې. د دې سياليو په پايله کې د محمديه دارالعلوم طالب العلم نصرت الله په حفظ برخه کې او د اسلاميه دارالحفاظ طالب العلم همايون د حسن قرائت برخه کې لومړي مقامونه تر لاسه کړل.

د پوهنې وزارت مسئولينو دواړو ګټونکو طالب العلمانو ته د مبارکۍ ترڅنګ د دوی لپاره د لازياتو برياوو په هيله ددعاء لاس لپه کوي.

## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست اوونیز فعالیتونه

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رياست له هدايت سره سم تېره اونۍ د پوهنې وزارت د مرکزي هستې ټولو کارکونکو ته د ديني درسونو لړۍ دوام درلود او د يادې اونۍ په درشل کې د محترم مولوي ګلبدين لخوا ټولو منسوبينو او کارکوونکو ته اصلاحي وينا ترسره شوه.

همدارنګه نوموړي د پوهنې وزارت له ټولو منسوبينو څخه وغوښتل، تر څو خپلو مسئوليتونو او دندو ته په جدي ډول متوجې واوسي او د مراجعينو کارونه پرته له ځنډ څخه په ټاکلي وخت سرته ورسوي.

دغه راز له ولايتونو څخه را رسېدلي خبرونه ښيي چې؛ د دعوت او ارشاد رياست د پلان له مخې د پوهنې ټولو کارکوونکو ته د ديني درسونو لړۍ په نورمال ډول روانه وه.

## د میدان وردګ اوسېدونکو په تېره یوه میاشت کې له معارف سره د شاوخوا ۴ مېلیونه افغانۍ مرسته کړې

د ميدان وردګ ولايت د سيمه ييزو اوسېدونکو له خوا په ۵ ولسواليو کې د ۳۸ بابه ښوونځيو سره د ۴ مېليونه ۳۲۶ زره ۷۰۰ افغانيو په ارزښت د ښوونځيو بيارغونې، لمريزې برېښنا د سيستم فعالولو، د کتابونو پېرلو، د اړتيا وړ تخنيکي توکو برابرولو برخو کې مرسته کړې ده.

د يادونې وړ ده، چې د ۱۴۰۳ ښوونيز کال له پيل څخه تر اوسه پورې د دغه ولايت اوسېدونکو له پوهنې سره د ۲۱،۵ مېليونه افغانيو په ارزښت مرستې کړې او دا لړۍ لاهم دوام لري. د پوهنې وزارت په دې برخه کې د هېواد د خلکو په ځانګړې توګه د ميدان وردګ ولايت د علم پروره ولس له مادي او معنوي مرستو څخه خوښي څرګندوي او له هغو قدرداني کوي.

## بدخشان ولایت ته د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې رئیس سفر

د پوهنې وزارت د څارنې او ارزونې رئيس محترم مولوي غلام ربي «رباني» بدخشان ولايت ته سفر وکړ او د دې سفر په بهير کې يې د ياد ولايت د پوهنې رياست اړوند بېلابېلو ځانګو له کړنو او دندو څخه څارنه او ارزونه وکړه.

دغه پلاوي د بدخشان د پوهنې رياست له رهبرۍ سره د کتنې پرمهال، د پوهنې په برخه کې کار کول عبادت وباله او ټينګار يې وکړ چې د ياد ولايت اوسېدونکي د ډېرو سختيو او ستونزو له امله د لا ښو او ګټورو خدمتونو مستحق دي.

په دې کتنه کې د بدخشان ولايت پوهنې رياست سرپرست او د سرچينو او اداري آمر محترم قاري عبدالهادي «هادي» د څارنې او ارزونې رئيس او ورسره مل پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ ټينګار وکړ، چې دغه اداره د پوهنې د کيفيت لاښه والي په برخه کې...

۲مخ

**د پوهنې وزارت ژمن دی چې له قومي، نژادي او توکميزو توپيرونو پرته په اسلامي چوکاټ کې هېوادوالو ته د زده کړې زمينه برابره کړي.**